# تر ټولو لوی ګناهونه: له الله سره شرک کول، د الله له مکر څخه بې پروا کېدل، د الله له رحمت څخه نا اميدي او د الله له هيلي او اميد قطع کول.

عبد الله بن مسعود - رضي الله عنه - له نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې هغه وفرمايل: د کبيره ګناهونه تر ټولو لويه يې : د الله سره شرک کول، د الله له مکر څخه بې پروا کيدل، او د الله له رحمت څخه اميد قطع کول، او د الله له رحمت څخه نا هيله کيدل.
[إسناد يې صحيح دی] [عبدالرزاق روايت کړی دی]

رسول الله - صلی الله عليه وسلم - پدې حديث کې د هغه ګناهونو يادونه کړې چې له کبيره ګناهونو څخه ګڼل کيږي او هغه دا دي چې: د الله - پاک - سره په ربوبيت او عبادت کې شريک وګرځول شي او په همدې يې پيل وکړ، ځکه چې دا تر ټولو لويه ګناه او له الله تعالی څخه د هيلې او اميد پرې کول دي؛ او ځکه چې دا په الله تعالی بدګماني او د هغه د پراخه رحمت په اړه ناپوهي ده،او بنده د نعمتونو په ورکولو سره ځان له نيونې څخه ساتلی بولي تر دې چې په تدريجي توګه يې ناپاه کې راونيسي. او پدې حديث کې موخه د لويو ګناهونو د شمېر محدودول ندي کوم چې ياد شول، ځکه چې لوی ګناهونه زيات دي، بلکه موخه ترې د تر ټولو لويو ګناهونه څخه يادونه ده.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6049